# د خوندي او منلو ښوونځیو رامنځته کول: د منلو ښوونځیو د لایحې(13 بل) په اړه والدینو ته معلومات

موږ پوهیږو چې د زده کونکو د لاسته راوړنو او ودې لپاره یو خوندي، جامع او د منلو وړ ښوونځی اړین دی.

همدغه علت دی چې دولت 13 لایحه، د منلو ښوونځیو قانون معرفي کړ، چې *اوس* د یو قانون په توګه منل شوی دی.

## 13لایحه څه ده؟

13لایحه د ښوونځي له اداري هییت څخه غواړي چې زموږ په ښوونځیو کې د شاګردانو ترمنځ نامناسب او بې احترامه چلند په نښه او مخنیوی ترې وکړي. پدغه سلوکو کې ځورول، تبعیض او آزارول شامل دي. نوی قانون دا روښانوي چې دغه سلوک زموږ په ښوونځیو کې د منلو وړ ندي. دا د ټولو زده کونکو په مینځ کې د نژاد، جنس، جنسي لید، معیوبیت یا بل کوم فاکتور په پام کې نیولوڅخه پرته احترام او تفاهم ته وده ورکوي.

## 13مه لایحه څنګه د ښوونځیو او ادارو سره مرسته کوي چې د ځورولو په شمول نامناسب سلوک په نښه او ترې مخنیوی وکړي؟

دا قانون د هغو کړنو په ادامه کې پلي کیږي چې پدې برخه کې د ښوونځیو او ادارو لخوا ترسره شوي دي. 13 لایحه له اداري څخه غواړي ترڅو:

- د پرمختلونکی ډسیپلین، د ځورولو څخه مخنیوي او مداخلې، د مساوات او جامع زده کړې په اړه خپلې پالیسي ولري.
- د هغه زده کونکو لپاره چې په نورو ملنډې وهي سختې پایلې په پام کې ونیسي. که چیرې زده کونکی دمخه د ځورولو لپاره په تعلیق کې وياو:
  - د زده کونکي شتون په ښوونځي کې د نورو خوندیتوب د نه منلو وړ له خطر سره مخ کوي، یا دغه ځورولو ته د تعصب، تبعیض یا نفرت په واسطه وده ورکړی شوي وي
  - دا پایلې کیدای شي د ښوونځي څخه ځنډول یا هم ویستلو پورې ورسیږي.

  د زده کړې لایحه د تعلیق شوي یا ایستل شوي زده کونکو لپاره د ملاتړ غوښتنه کوي:
  - که چیرې زده کونکي اخراج شوي وي یا د اوږدې مودې لپاره په تعلیق کې وي (د ښوونځي پنځه ورځو څخه زیات)، نو دوی به د ځنډوني/ اخراج پروګرام له لارې اکاډمیک/غیر-اکاډمیک ملاتړ لاسته راوړي.
  
    هغه زده کونکي چې د ښوونځي ترپنځه ورځو پورې تعلیق کې وي، د کورنی دندې یوه کڅوړه لاسته راوړي.

- استادانو او د ښوونځي نورو کارمندانو ته په کلنې ډول د ځورونې څخه مخنیوي او د ښوونځي مثبت چاپیریال ته د ودې ورکولو په اړه د روزنې او معلوماتو چمتو کول.
- پدې کې د ښوونځی مثبت چاپیریال او د ځورونې څخه د مخنیوی لپاره د دوی څوکلن پلانونه او همدارنګه عامه وګړو ته د دې هڅو خپرول شامل دي.

## آیا 13لایحه د مدیرانو دنده بدلوي؟

- لایحه مدیرانو ته نوي او ځانګړي مسؤلیتونه ورسپاري. اوس له دوی څخه غوښتنل کیږي ترڅو:
  - چې د اداري یوه کارمند په واسطه راپور شوي هره پیښه د ځورونې په شمول وڅیړي چې هغه ممکن د یوه شاګرد د ځنډونې یا ویستلو پایله ولري.
  - که چیرته یو زده کونکی داسې کوم کار ترسره کوي یا کوم بل زده کونکی ځوروي چې له امله یې کیدای شي له ښوونځي څخه و ځنډول یاهم و ویستل شي نو په اړه یې د زده کونکو والدین/اولیاو ته خبر ورکړي. والدین د دې لپاره هم راوبلي چې د هغوی ماشوم ته چمتو شوي ملاتړ په اړه ورسره وغږیږي.
  - د هغه زده کونکي والدین/ ساتونکي راوبلي څوک چې په پیښه کې زیانمن شوی ترڅو ورسره د هغه ملاتړ په اړه وغږیږي چې د هغوی ماشوم ته به چمتو کړی شي. له مدیرانو څخه وړاندې هم غوښتل شوی و تر څو د غه والدینو ته خبر ورکړي.
  - د هغه ښوونکو سره او که چیرې مناسبه وي د اداري له هغه کارمند سره وغږیږي، چا چې داسې یوه پیښه راپور ورکړي وي چې د یوه زده کونکي د تعلیق یا ویستل کیدو لامل کیږي. له مدیرانو څخه غوښتل کیږي چې د پیښې په اړه د دوی د پلټنې په پایله دوی ته خبر ورکړي.

## 13لایحه څنګه له اداري او ښوونځي سره مرسته کوي ترڅو والدین، زده کونکي او نور کارمندان او ذینفع کسان په موضوع کې ښکیل کړي؟

نوموړې لایحه د والدینو سره مرسته کوي چې د هغو ملاتړو په اړه چې د دوی ماشومانو ته د ښوونځي لخوا چمتو شوي او همدارنګه د هغو هڅو په اړه چې په ښوونځي کې د خورا غوره چاپیریال رامینځته کولو لپاره د ښوونځي لخوا ترسره کیږي، معلومات لاسته راوړي.

ISBN 978-1-4606-1132-6 (PDF) (Afghani) © د اونټاریو لپاره کوینز پرینټر، 2013

ontario.ca/EDUparents

Ontario

له ادارو څخه غوښتل کیږي ترڅو:

- د هغو والدینو لپاره چې خپلو ځامنو ته د چمتو شوي ملاتړ په هکله اندېښنه لري داسي پروسي ترتیب کړي چې دوی یې د ځان د اډمن کولو لپاره تعقیب کړي.
- داسي یوه کړنلاره رامنځ ته کړي چې په مرسته یې شاګردانو، والدین او نورو وکولی شي د ځوروني پیښو په اړه په خوندي توګه راپور ورکړي.
- لږترلږه هر دوه کاله د ښوونځي د چاپیریال په اړه د کارکونکو، زده کونکو او والدینو لخوا سروی ترسره کړي.
- والدین ته نور فرصتونه وړاندي کړي چې د زده کونکي خوندیتوب او د ښوونځي د چاپیریال په اړه زیات معلومات ومومي.

### 13لایحه څنګه د زده کونکو ملاتړ کوي؟

13لایحه غواړي چې:

- ښوونځي هغه زده کونکو ته ملاتړ چمتو کړي چې نامناسب چلند کې ګیرشوي یا د نامناسب چلند له امله اغیزمن شوي.
- له ښوونځیو څخه غواړي چې دواړو قربانیانو او ځورول شوي کسانو، او هغو ته چې د پیښي شاهد وو، پروګرامونه، مداخلي یا نور ملاتړ چمتو کړي.
- ښوونځي باید زده کونکو ته هغه لارې چمتو کړي چې په خوندي ډول د ځوروني پیښو په اړه راپور ورکړي.
- اداري او ښوونځي زده کونکو ته اجازه ورکړي چې په خپل ښوونځي کې د لاندې موضوعاتو په اړه د ټولو زده کونکو د پوهاوي او تفاهم زیاتولو لپاره ډلي جوړي کړي:
  - د نژاد پرستی ضد؛
  - معیوب وګړي؛
  - د جندر مساوات؛
  - جنسي لید او د جندر هویت. پدي ډلو کې کیدای شي Gay-Straight Alliances (GSAs) شامل وي.

که چیرته زده کونکي غواړي پرخپلي ډلي دGSA یا کوم بل نوم کیږدي اداره یا مدیران نشي کولی د دوی مخه ونیسي.

زده کونکي کولی شي د خپل ښوونځي د اړتیاو په اساس نوری ډلي هم جوړي کړي.

- د زده کونکو لخواــ رهبري شوی ترنوم لاندې ډلي باید په ښوونځي کې د داسي مثبت چاپیریال په رامینځته کولو کې مرسته وکړي چې ټول زده کونکي پکې شامل او دمنلو وړ یې وي.

### 13لایحه په هغو موسسو څنګه اغیزه کوي چې په عامه ښوونځیو کې یې ځای کرایه کړی وي؟

13لایحه د دریمو ډلو څخه لکه د لوبي لیګونو او له ټولنیزو ډلو څخه غواړي چې کله هغوی د عامه ښوونځیو په ساحه کې کارکوي نو د سلوک هغه معیارونه تعقیب کړي چې د چلندونو له ولایتي قانون سره متناقض نه وي. دا قانون ډاډ ورکوي چې د ښوونځی ټولني له ټولو غړو سره د دوی درنښت او وقار په پام کې نیولو سره چلند کیږي او دا چې دا قانون د ځوکلونو راهیسي پلي شوی دی.

### څنګه د "بشپړ ښوونځي مفکوره" ښوونځي د زده کړې لپاره غوره ځایونه جوړلی شي؟

په ښوونځي کې د مثبت او جامع چاپیریال رامینځته کولو لپاره د "بشپړ ښوونځي مفکوري" ته اړتیا ده چې د دې په اساس په ټوله ښوونځی او ټولنه کې د روغتیا او درناوی په اساس اړیکي باید ټینګې شي.

خوندي، جامع او د منلو وړ ښوونځي د شاګردانو سره مرسته کوي ترڅو په ټولګي کې او له ټولګي څخه د باندې خپل کارونه په سمه توګه ترسره کړي. د خوندي، جامع او د منلو وړښوونځیو په جوړولو کې دولت، د ښوونځي اداري، د ښوونځي کارمندان، والدین، زده کونکي او د ټولني غړي هر یو په خپل وارسره ونډي لري.

په ګډه موږ کولی شو د ښوونځي مثبت چاپیریال رامنځته کړو چې دا د ټولو زده کونکو سره مرسته کوي ترڅو زده کړي، وده وکړي او بریا لاسته راوړي.

### 13لایحه د یوه جامع کاري پلان یوه برخه ده

قانون جوړونه زموږ د مساواتو او جامع زده کړي او د خوندي ښوونځیو پر ستراتیژی رامنځته کیږي. قانون جوړونه د یو لوی کاري پلان برخه ده چې لاندې موارد پکې شامل دی:

- په کلیوالي او لري پرتو ټولنو کې د ماشومانو لپاره په ښوونځي کې د ذهني روغتیا نورکارکونکي معرفي کول او د یو رواني ډاکتر سره د مشوري لپاره یې د ویډیویي خدمتونو پراخول.
- د اونټاریو د کوریکولم ټولني د وړاندیزونو په اساس، داسي لاري موندل چې په ټول تعلیمي نصاب کې مساوات او جامع زده کړې ته او همدارنګه د ځوروني څخه د مخنیوی ستراتیژی ته زیاته پاملرنه وشي.
- د عامه پوهاوي کمپاین په لاره اچول ترڅو دا څرګنده شي چې د اونټاریو ټول استوګن د ځوروني څخه په مخنیوی کې ونده اخلي.
- د منلو وړو ښوونځیو له تکړه کسانو څخه یو هییت رامنځته کول ترڅو د ځوروني څخه د مخنیوی او مداخلي په شمول د بشپړ ښوونځي مفکوري د پلي کولو لپاره د سرچینو او تجربو د چمتو کولو په اړه مشوره ورکړي.

### نوري پوښتني؟

والدین کولی شي د منلوړ ښوونځیو لپاره د اونټاریو

- کاري پلان په اړه نورهم آنلاین له دې ویبپاڼي څخه ترلاسه کړي:
  www.ontario.ca/acceptingschools
- د خوندي ښوونځیو ستراتیژي په دې ویبپاڼه کې
  www.edu.gov.on.ca/eng/parents/safekit.html
- د مساوي او جامع زده کړي ستراتیژي په دې ویبپاڼه کې
  www.edu.gov.on.ca/eng/policyfunding/equity.html
- د چلند ولایتي قانون په اړه پدې ویبپاڼه کې
  www.edu.gov.on.ca/eng/safeschools/standards.html